مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۰مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۱مه | دویم کال| ۲۸۲مه گڼه

## پوهنتون

۴ مخ

### د سمنگان د لوړو زده کړو موسسه

د سمنگان د لوړو زده کړو موسسه یوازې درې پوهنځي او څوارلس فعال ډیپارټمنټونه لري چې محصلین پکې زده کړې کوي



### له ۸۰ زره بېځایه شویو کورنیو سره ژمنې مرستې کېږي



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت په پام کې لري چې سږکال له څه باندې ۸۰ زره بېځایه شویو کورنیو سره ژمنۍ مرستې وکړي.
دغه وزارت وایي، په همدې موخه د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ یا UNHCR او نورو نړیوالو ادارو په مرسته، له درېو میاشتو راهیسې یوه ستراتیژي ترتیب شوې ده. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د کورنیو بېځایه شویو رییس مهرخدا وایي، د دې ستراتیژۍ لپاره ۲۱ میلیونه ډالره بودجه اټکل شوې چې له مخې به یې له ۸۳ زرو کورنیو سره مرسته کېږي.
په افغانستان کې د روانو جگړو، وچکالۍ او نورو ستونزو له کبله په لسگونو زره کسان بېځایه شوي دي. په وروستیو کې د افغانستان په لوېدیځ کې دوه لکه او ۲۳ زره کسان بېځایه شوي چې عاجلو مرستو ته اړتیا لري.

### د ټاکنو کمېسیون د نوې ژمنې پر بنسټ؛

# د ولسمشریزو ټاکنو مهالوېش تر راتلونکو دوو یا درېو ورځو پورې اعلانېږي




### د مسکو له غونډې ناراضه حکومت

۲ مخ

### د انتخاباتو لپاره د لوی ملي ائتلاف اعلان

۲ مخ

### په افغانستان کې د اوبو کمښت

۳ مخ

## حکومت: طالبانو ته دې اجازه نه ورکول کېږي چې د مسکو له ناستې ابزاري استفاده وکړي

افغان حکومت وایي، هیله لري چې د مسکو ناسته به د حکومت او طالبانو تر منځ مخامخ خبرو ته لاره هواره کړي او دغه راز ټینگار کوي چې طالبانو ته باید اجازه ورنه کړل شي چې له دې ناستې د وسیلې یا ابزار په توگه گټه پورته کړي.
د بهرنیو چارو وزارت د هر هغه هېواد ستاینه کوي چې سولې ته د رسېدو په برخه کې له افغانستان سره مرسته کوي او همداراز د سولې په بهیر کې د افغانستان په رهبرۍ او مالکیت ټینگار کوي.
د بهرنیو چارو وزارت دغه څرگندونې د افغان سولې په اړه د مسکو د پرونۍ غونډې په غبرگون کې کړې دي.
د بهرنیو چارو وزارت له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د مسکو دا ناسته د پخوانیو هغو (مسکو فارمټ) په تعقیب ناسته نه وه چې د خپلواکو هېوادونو ترمنځ ترسره شوه او د افغانستان حکومت هم پکې گډون درلود، بلکې په پرونۍ ناسته کې طالبانو ته هم د گډون بلنه ورکړل شوې.
سرچینې زیاته کړې، د تاشکند ناستې او کابل بهیر د اصولو او پرېکړو پر اساس باید افغان حکومت او طالبان په مستقیم ډول له یو بل سره د سولې خبرو اترو ته کېني.
په خبرپاڼه کې راغلي، د افغانستان او روسیې ترمنځ د شوي تفاهم پر اساس، د افغانستان حکومت هیله من دی چې دغه ناسته به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ نېغ په نېغه خبرو اترو ته لاره هواره کړي او طالبانو ته باید اجازه ورنه کړل شي چې له دې ناستې د وسیلې یا ابزار په توگه گټه پورته کړي.

### افغانستان او سیمې ته د خلیلزاد دویم سفر به مو سولې ته لا نږدې کړي



۵ مخ

### بهرنیو ځواکونو بیا په پکتیا کې اووه ملکي وگړي وژلي



د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ اړوند د علي خېلو بازار ته څېرمه د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې اووه ملکي وگړي وژل شوي دي.
د ځاځي اریوب ولسوال کفتان اخلاص برید تایید کړی او سپوږمۍ راډیو ته یې ویلي چې بهرنیو ځواکونو دغه برید د ملکي وگړو پر سراچه موټر کړی دی.
اخلاص زیاته کړې چې په برید کې دوه تنه ماشومان، دوې ښځې او د موټر چلوونکي په گډون درې نارینه وژل شوي دي.
د سیمې یو اوسېدونکی او مدني فعال سیدجمال الدین اصف خېل هم وایي چې برید پرون غرمه شاوخوا دولس بجې شوی او هغه موټر پکې په نښه شوی چې ملکي وگړي یې لېږدول.
اصف خېل ویلي چې په وژل شویو کې دوه ماشومان هم شامل دي.
افغان حکومت او په هېواد کې مېشتو بهرنیو ځواکونو په ځاځي اریوب کې د دغه برید په تړاو څه نه دي ویلي.
په هېواد کې د هوایي بریدونو پر مهال د ملکي وگړو مرگ ژوبله نوې خبره نه ده، بلکې تر دې وړاندې هم په ځلونو ملکي اهداف په نښه شوي دي. شنونکي که له یوې خوا ورته بریدونه غندي، له بلې خوا پر افغان حکومت نیوکه کوي چې له بهرنیو ځواکونو د افغانانو د وژلو په تړاو پوښتنه نه شي کولی.



## دریــغ

### د مسکو له غونډې ناراضه حکومت

د مسکو له غونډې د افغانستان حکومت ناراضه ښکاري او فکر کوي چې له دې غونډې وسله والو طالبانو گټه پورته کړې ده. بهرنیو چارو وزارت ویلي چې طالبانو ته باید اجازه ورنه کړل شي چې له دې ناستې د وسیلې یا ابزار په توگه گټه پورته کړي. د بهرنیو چارو وزارت که څه هم ویلي چې دوی د هر هغه هېواد ستاینه کوي چې سولې ته د رسېدو په برخه کې له افغانستان سره مرسته کوي، خو ښکاري چې حکومت فکر کوي د مسکو غونډه د وسله والو طالبانو په گټه تمامه شوې ده.

د مسکو په غونډه کې د وسله والو طالبانو گډون او د حکومت نه گډون رښتیا هم حکومت کمرنگه کړی او دا لومړی ځل دی چې وسله وال طالبان په یوه داسې غونډه کې را څرگندیږي او خپل دریځ پیاوړی کوي. حکومت چې د هر دلیل له مخې په دې غونډه کې گډون ونه کړ، خو تاوان یې وکړ او په کور د ننه او په نړیواله کچه د پړې گوته ورته نیول کیږي. په کابل کې چارواکي بیا بیا د افغان حکومت په مالکیت او مشرۍ د سولې په خبرو ټینگار کوي، خو طالبان چې له حکومت سره خبرې نه کوي، نو د دوی په مشرۍ غونډو او خبرو ته خو کله هم نه حاضریږي. اوس چې طالبان له حکومت سره خبرې نه کوي او حکومت هم د مسکو په شان غونډې پرېږدي او نه ورځي، ددې معنا که له یوه اړخه د جگړې دوام دی، له بله اړخه وسله وال طالبان په سیمه ییزه او نړیواله کچه پیاوړي کیږي، خو حکومت د سیمه ییزې انزوا لوري ته ځي. له بله اړخه امریکایي استازي مخامخ له طالبانو سره خبرې کوي او په دې تړاو ان حکومت ته معلومات هم نه ورکوي. دلته بیا حکومت د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د خبرو بحث نه را پورته کوي، خو که روسان طالبان او حکومت یوې غونډې ته را بولي، بیا نو حکومت د افغانانو د مشرۍ او مالکیت خبره را مخکې کوي. له دې ښکاري چې امریکا نه غواړي چې د افغانستان د جگړې او سولې بحث د دوی له انحصار څخه ووځي او بل څوک پکې رول ولوبوي. د همدې په سیوري کې حکومت د مسکو غونډې ته نه دی ورغلی او امریکا هم یوازې د څارونکي په توگه پکې گډون کړی دی.

د افغانستان حکومت غواړي دا جگړه ختمه شي او سوله راشي. دا سوله که د امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو له لارې وي. که په مسکو کې د غونډې له لارې وي او که د افغان حکومت، وسله والو طالبانو او امریکانو د درې اړخیزې او یا هم څو اړخیزې غونډې له لارې وي. مهمه دا ده چې افغانستان ته سوله را وگرځي. له همدې امله افغان حکومت او طالبانو ته پکار ده چې له ضد او ځانغوښتنې تېر شي. د سولې په برخه کې انعطاف وښیي، قرباني ورکړي او د روانې جگړې په ختمولو کې یو له بل سره سیالي وکړي. همدا د افغانانو غوښتنه ده. له دې پرته خلک پوهیږي چې د سولې اصلي مخالفین څوک دي او خلک به اړ شي چې پر ضد یې گام واخلي.

# د انتخاباتو لپاره د لوی ملي ائتلاف اعلان

لیکنه: عبدالباري جهاني

د افغانستان لوی ملي ائتلاف چې د هېواد تر ټولو بدنام غله، داړه ماران او جنایتکاران پکې را ټول شوي دي، اعلان کړی دی چې ډېر ژر به د جمهوري ریاست د راتلونکو انتخاباتو لپاره د یوه کاندید پر ځای د اتو مقامونو لپاره خپل کاندیدان اعلان کړي. د دغه ائتلاف یوه مشر احمد ضیا مسعود چې په افغانستان کې له یوه سیال څخه هم په غلا، رشوت، او اداري فساد کې وروسته پاتې نه دی، اعلان کړی چې دوی به د جمهور رییس، د هغه د دریو مرستیالانو، صدراعظم او د هغه د دریو مرستیالانو کاندیدي اعلان کړي. ده په خپل اعلان کې دا هم ویلي چې د جمهوري ریاست څوکۍ به یوه پښتانه ته چې حتماً باید په غلا او جنایتونو کې د ائتلاف د نورو مشرانو سره برابر او یا بدتر وي، ورکړي او باقي پاتې څوکۍ به د نورو قومونو ترمنځ ووېشي. ضمناً به د جمهور رییس صلاحیتونه کم کړي او په عوض کې به د صدراعظم او د هغه د دریو مرستیالانو صلاحیتونه زیات کړي.

دا چې دا اعلان د چا له خولې راوتلی او د چا استازیتوب کوي، د ټول اختصار سره سره یې د شرارت او فساد ټول تفصیل څرگند دی. هغه خبره دې یوې خواته پاته وي؛ ځکه زه یقین لرم چې دغه ائتلاف به په خپلو شومو اغراضو کې ځکه بریالی نه شي چې لومړی خو به یې نور کسان بري ته پرې نه ږدي او دویم به په انتخاباتو کې له برخې اخیستلو څخه مخکې د بل هر ځل په څېر د گټو د وېشلو پر سر د لېوانو په څېر سره بې اتفاقه شي او یوه بل ته به خولې واچوي. خبره په دې کې ده چې دغه اوسنی نظام خو د ائتلاف د همدغو مشرانو په مرسته منځته راغلی او دغه مشران د همدغه نظام له برکته اوس د سوونو او حتی زرگونو میلیونو ډالرو څښتنان شوي دي. د جمهوري ریاست، پارلمان، لویې جرگې او ولایتي جرگو د انتخاباتو قوانین او اساسي قانون او نور فرعي قوانین خو د دوی په مشرۍ منځته راغلي دي. دوی اوس څرنگه د خپل تصویب کړي اساسي قانون په مقابل کې درېږي.

خبره بېرته هغه پخواني ځای ته رسېږي چې «ورانه ده، خو له خانه ده». که اشرف غني یوازې او یوازې د جمهور رییس کېدو او د قدرت په نشه د مستېدلو او زړه سړولو په منظور د امریکا د خارجه وزیر جان کري امر ته غاړه نه وای اېښې او د هېواد د اساسي قانون د ټولو موازینو په خلاف یې د اجرائیه ریاست ایجادول نه وای منلي او په لوی لاس یې دوه سري حکومت منځته نه وای راوړی؛ نن به د لوی ملي ائتلاف غلو مشرانو د اساسي قانون پر خلاف د دومره لویې سرغړونې جرئت نه وای کړی. د ائتلاف داړه مارانو ولیدل چې که پرون سرغړونه کېدلای شوای او د اجرائیه رییس او د هغه د دوو مرستیالانو او له هغوی سره د سل هاوو نورو مامورینو پوستونه ایجادېدلای شوای، نو د اتو تنو کاندیدانو پېشنهادول او په انتخاباتي مبارزه کې برخه اخیستل څه تاوان لري؟

په افغانستان کې په وروستیو څه کم سلو کلونو کې له اساسي قانون او نورو ملي موازینو او نوامیسو سره دومره لوبې شوې چې ښایي په سیمه او حتی نړۍ کې ساری ونه لري.

افغانستان د امیر عبدالرحمن خان تر زمانې پورې لیکلی عصري قانون نه درلود او ټول اجراات زیاتره د دیني علماوو د فتواوو سره سم کېدل. امیر عبدالرحمن خان د حکومتي اجرااتو لپاره د « قانون کارگذاري در معاملات حکومت و تعین جرایم و سیاست» په نوم په ٦١ مادو کې یو قانون خپور کړ. که څه هم چې دغه قانون په خپل ذات کې ډېر ظالمانه و؛ ځکه چې په نهه پنځوسمه ماده کې وایي چې که چېرې قاتل د مقتول ورثې او حکومت ته دیت او جریمه نه شوای پوره کولای، نو د هغه له مور، پلار، خور، ورور، کاکا، عمه، خاله، د کاکا له زوی، د عمه له زوی او د خاله له زوی څخه دې دیت واخیستل شي. گواکې له مجرم سره د هغه بې گناه نږدې او لرې خپلوان هسې په ناحقه په جرم کې شریک گڼل کېدل، خو په هر صورت، تر نه قانون همدا ظالمانه قانون هم ځکه بهتر و چې په وروستیو کې د نورو بهترو قوانینو لپاره یوه مقدمه وه.

امیرعبدالرحمن خان دغه راز د « اساس القضات » په نوم یو بل قانون په ۱۳٦ مادو کې منظور او خپور کړ او دا قانون لکه له نوم څخه چې یې ښکارېږي، خاص او یوازې د قاضیانو د اجرااتو لپاره و. په زړه پورې خبره دا ده چې امیر دغه دواړه قوانین ماده په ماده تر نظر تېر کړي او د هرې مادې په پای کې یې لیکلي دي چې صحیح است فقط.

له امیرعبدالرحمن څخه وروسته، اعلیحضرت امان الله خان د هېواد لپاره لومړنی اساسي قانون تصویب او خپور کړ. په دغه قانون کې د پاچا او رعایا پر حقوقو باندې په څو مادو کې بحث شوی دی. دغه راز یې بې شمېره نظامنامې تصویب او خپرې کړې. د هغه په زمانه کې د قوانینو مسئلې ته تر بلې هرې اجتماعي چارې زیاته توجه وشوه. له اعلیحضرت امان الله خان او په تېره بیا اعلیحضرت محمدظاهرشاه څخه وروسته هر مشر او واکمن د خپلې خوښې سره سم اساسي قانون جوړ کړی او له ځان څخه وروسته واکمن ته یې د بشپړ تغیر لپاره په میراث پرې اېښی دی.

بیرغ همداسې در واخلی. د افغانستان په معاصر تاریخ کې یعنې له احمدشاه بابا څخه تر اوسه پورې بیرغ پنځه ویشت ځله تغیر شوی دی. یوازې اعلیحضرت امان الله خان په خپله لس کلنه دوره کې څلور ځله تغیر پکې راوست. پر افغانستان باندې د امریکا او ناټو د یرغل راهیسې بیا تر ۲۰۱۳ ز کال پورې څلور ځله تغیرات پکې راغلي دي. په بانکنوټونو کې چې د بیرغ په څېر د یوه هېواد د هویت شکل لري او یو هېواد ورباندې پېژندل کېږي، خو لکه د لوبو سامان هر نظام او هر واکمن جلا جلا او له خپلې خوښې سره تغیر راوستلی دی. ملي سرود هم د بیرغ په څېر پاتې نه دی او هر واکمن د خپلې خوښې سره سم انتخاب کړی او رواج کړی دی. په زړه پورې خبره خو لا دا ده چې اوسنی ملي سرود چې د منظورېدو او خپرېدلو یې څه باندې دوولس کاله کېږي، ډېر زیات حکومتي مقامات او لوی سفارتونه په رسمیت نه پېژني. دا خبره مو باید په یاد وي چې د افغانستان نوم هم یو وخت افغانستان بیا مملکت خداداد افغانستان، د افغانستان شاهي دولت، د افغانستان جمهوریت، د افغانستان ډیموکراټیک جمهوریت، دولت اسلامي افغانستان، د افغانستان اسلامي امارت او د افغانستان اسلامي جمهوریت ته تغیر کړی دی.

داسې ښکاري چې موږ له بده مرغه یوازې په اداري فساد او د مخدره موادو په تولید کې په نړۍ کې لومړی مقام نه دی گټلی، بلکې په ډېرو نورو بدیو او کمزوریو کې هم له سیالانو څخه وړاندې یو. کله چې د یوه هېواد واکمنان او د واک نیولو لپاره کاندیدان خپل هغه اساسي قانون چې دوی په خپله تصویب او توشېح کړی دی، نه رعایتوي نو سړی نه پوهېږي چې دا واکمنان به نورو کسانو ته په کومو سترگو او کوم جرئت له قانون څخه د سرغړونو له امله سزا ورکوي.

زه یقین لرم د ډېرو زیاتو کسانو، په تېره بیا منورینو به خوا راته بده شي. زموږ په گاونډ کې پاکستان پروت دی چې زموږ منورین یې مصنوعي او بې تاریخه هېواد بولي او نور یې په داسې نومونو یادوي چې په مضمون کې د لیکلو نه دي، خو که حقیقت ته ځیر شو، د ۱۹۴۷ ز کال راهیسې چې پاکستان له برېټانیې څخه خپلواکي اخیستې او له هند څخه بېل شوی دی، پاکستان نومېږي. یو ملي سرود لري، یو بیرغ لري، یو بانکنوټ لري او یو اساسي قانون لري چې تعدیلات د نړۍ د هر هېواد په قوانینو کې راغلي او دا یو طبیعي کار گڼل شوی دی. له پنجابي لیاقت علي خان څخه نیولې تر پښتانه مارشال ایوب خانه تر سیندهي ذوالفقار علي بهټو، تر بلوڅ اصف علي زرداري، بیا تر پنجابي نوازشریف او پښتنو ته منسوب یا پښتون عمران خان پورې چې هر یو قدرت ته رسېدلی دی، ټول پاکستانیان دي او هر یو د خپل پاکستان تر گټو سرونه قربانوي. په مقابل کې زموږ سیاستمداران او قومي مشران د افغانستان له نامه سره مخالف دي. هغوی دا نوم په خراسان بدلول غواړي او په تذکره کې د افغان پر نامه باندې اعتراض لري. داسې ښکاري چې موږ له بده مرغه د ملت کېدلو او ملي یووالي په اساس د هېواد له جوړولو څخه اوس هم ډېر لرې یو. که څه هم چې د افغانستان د شمال لوی ائتلاف یا د غلو او داړه مارانو غدی په هېڅ صورت د افغانستان د عظیم هېواد استازیتوب نه کوي، خو د خطر د یوه زنگ په توگه باید په نظر کې ونیول شي.



## د جگړې ښکېلې غاړې پر ملکي وگړو او ماشومانو زړه نه سوځوي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د ملکي وگړو د خوندیتوب کمېټه وایي، د جگړې د ښکېلو اړخونو له خوا د ملکي وگړو خوندیتوب ته د نه پاملرنې له امله په هېواد کې د ماشومانو د مرگ ژوبلې کچه لوړه شوې ده.

دوی د جگړې له ښکېلو اړخونو غواړي چې د ملکیانو، په ځانگړې توگه د ماشومانو، خوندیتوب ته جدي پام وکړي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ماشومانو د برخې مسوول نجیب ببرکزی وایي چې حکومت او وسله وال مخالفین باید د جگړې پرمهال ټول بشري قوانین رعایت کړي.

نوموړي ازادي راډیو ته ویلي: «په دې اړه اندېښنې موجودې دي، دولت او د جگړې نور ښکېل اړخونه مکلف دي چې د ماشومانو خوندیتوب ته جدي پام وکړي، څو ماشومان د جگړې قرباني نه شي.»

ببرکزي ویلي، د روان لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یې د ماشومانو د مرگ ژوبلې ۱۲۹۲ پېښې ثبت کړې چې پکې ۱۴۵ تنه ماشومان وژل شوي او ۱۱۴۲ نور ټپیان شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملگرو ملتونو د مرستندوی ماموریت یا یوناما تازه راپور ښیي چې د ۲۰۱۸ میلادي کال د جنورۍ او سپټمبر ترمنځ حملو او چاودنو کې ٦۵۳ ماشومان وژل شوي او ۱۴۸۳ نور ټپیان شوي چې د یادې مودې د ټولو ملکي تلفاتو ٦۰ سلنه جوړوي.

د یوناما په راپور کې د ټول افغانستان په ځانگړې توگه د شمالي ولایتونو امنیت ناوړه بلل شوی چې د دوی په خبره، د خلکو په ځانگړې توگه د ماشومانو پر ژوند یې ډېر ناوړه اغېز کړی دی.

د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي تادامیچي یاماموتو له دې وړاندې په یوه بیان کې ویلي وو چې په لوی لاس د ملکیانو په نښه کول جنگي جنایت دی.

بل خوا د براون پوهنتون او یو شمېر نورو څېړنیزو ادارو یو څېړنیز راپور ښیي چې په افغانستان، عراق او پاکستان کې د امریکا له لوري د ترهگرۍ پر ضد په روانه ۱۷ کلنه جگړه کې تر دې مهاله شاوخوا پنځه لکه کسان وژل شوي دي.

د دغه څېړنیز راپور له مخې په یاده موده کې په عراق کې ۲٦۸ زره کسان، په افغانستان کې ۱۴۷ زره کسان او په پاکستان کې بیا ٦۵ زره کسان وژل شوي دي.

په ورته وخت کې د ملکي وگړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ډلې مسوول عزیز احمد تسل وایي چې د جگړې دواړه لوري په بې رحمانه ډول ملکیانو ته مرگ ژوبله اړوي او د ماشومانو په گډون په هېڅ چا رحم نه کوي.

ده وویل: «زموږ د راپور له مخې، یوازې په اکتوبر میاشت کې ۷۰ تنه ماشومان د جگړې قرباني شوي چې په هغه کې ۳۰ تنه وژل شوي او ۴۰ نور ټپیان شوي چې په هغه کې د چا لاس نشته او د چا پښه، یو لوری هم په خلکو زړه نه سوځوي، نه حکومت او نه هم وسله والې ډلې.»

یوناما په داسې حال کې د ٦۵۳ ماشومانو د وژل کېدو خبر ورکوي چې دغه بنسټ څه موده وړاندې په یوه راپور کې ویلي وو چې د نهو میاشتو په موده کې په افغانستان کې هره ورځ ۱۵ غیر نظامیان وژل شوي او ۳۰ نور ټپیان شوي دي.

# په افغانستان کې د اوبو کمښت

محمدمحسن صادق

اوبـه د اللـه (ج) لـه خـوا هغـه لويـه، مهمـه او بـې مثالـه تحفـه ده چـې د ټولـو ژونديـو موجوداتـو د وجـود مهمـه برخـه جـوړوي او د ژونديـو موجوداتـو د ژونـد د پايښـت مهـم عنـصر دی. اوبـه نـه يـوازې دا چـې د ژونـد اړتيـا او مهـم عنصـر گڼل کېـږي، بلکـې پـه ودانيـزو چـارو، سـړک جوړونـې، برېښـنا بندونـو، د کرنيـزو ځمکـو پـه خړوبولـو، صنعتـي فابريکـو او نـورو بـشري تاسيسـاتو کـې هـم ورڅخـه کار اخيسـتل کېـږي. نـو نـن سـبا د اوبـو پـر سر خـبرې ډېـرې جـدي دي، هـم لـه دې اړخـه چـې څنگـه لـه دغـه کړکېـچ سره مبـارزه وکـړو او هـم لـه دې نظـره چـې څنگـه پـه گـډه سره پـه دې برخـه کـې لـه اوبـو نـه سـمه گټـه پورتـه کـړو. افغانسـتان کـې د اوبـو د کچـې د کمېـدو پـه تـړاو چـې پـه ۲۰۵۰ زيږديـز کال کـې بـه دغلتـه نـه د څښـاک لپـاره اوبـه وي او نـه بـه د کرنيـزو ځمکـو لپـاره، خـو لـه هغـو نـه پـه سـمه توگـه گټـه نـه پورتـه کېـږي، مـوږ بـه پـه راتلونکـو کلونـو کـې لـه سـختو سـتونزو سره لاس او گريـوان وو.

افغانسـتان نـږدې پنځـه لـوی سـيندونه لـري او پـه طبيعـي ډول د اوبـو لـه تنگسـې سره مـخ نـه دی، خـو د شـته اوبـو ناسـم مديريت پـه دغـه هېـواد کـې د اوبـو کړکېـچ پېچلـی کـړی دی. زمـوږ د هېـواد ځينـې برخـې د وچکالـۍ لـه املـه لـه سـخت بـشري ناوريـن سره مـخ دي، لکـه فاريـاب، غـور، بادغيـس، نيمـروز، د فـراه ولايـت گلسـتان او پشـت رود ولسـوالۍ، د هلمنـد خانشـين، مارجـه او واشـېر ولسـوالۍ او د هېـواد پـه نـورو برخـو کـې د خلکـو ژونـد، د حيواناتـو ژونـد، کښـتونه او هرڅـه د نابـودۍ لـه گـواښ سره مـخ دي. د افغانسـتان د پلازمېنـې کابـل ځينـو برخـو کـې د ککړتيـا لـه املـه اوبـه نـورې د څښـاک وړ نـه دي او يـا هـم د اوبـو لـه کمښـت سره لاس او گرېـوان دی، يـو بـل گـواښ دا دی چـې اقليمـي بدلونونـو د دغـه هېـواد تـر ۶۰ سـلنې ډېـر خـاروي د لـه منځـه تلـو لـه خطـر سره مـخ کـړي دي.

پـه افغانسـتان کـې نـږدې پنځـوس سـلنه د ځمکـې پـر سر بهېدونکـې اوبـه کمـې شـوې دي او تـر ځمکـې لانـدې اوبـو زېرمـی هـم نـږدې اتـه متره ښکته تللـې دي. د اوبـو کمښـت او اقليمـي بدلـون د افغانسـتان د کرنـې برخـه هـم سـخته ځپلـې ده. نـو د هېـواد هـر غـړي تـه لازمـه ده چـې د خپـل هېـواد د تاريخ او جغرافيـې پـه څېـر د خپـل هېـواد طبيعـي منابـع هـم وپېـژني او د هغـې پـه بـاره کـې جامع او مسـتند معلومات ولـري، دا ځکـه چـې طبيعـي منابـع د انسـانانو پـه ژونـد کـې کليـدي نقش لـري. اوبـه يـو لـه دغـه منابعـو څخـه مهمـه او قيمتـي منبـع ده، نـه يـوازې دا چـې يـو انسـان هـره ورځ ۷ او يـا هـم ۸ گيلاسـه اوبـو تـه اړتيـا لـري، بلکـې ټول حيوانـات او نباتـات بـې لـه اوبـو څخـه ژونـد نـه شي کـولای، د اوبـو پـه چـارو کـې متخصصينـو منابـع پـه درې ډولـه وېشـلې دي: (واورې، سـطحي منابـع او تـر ځمکـې لانـدې اوبـو منابـع) چـې هـر يـو ډول يـې پـه جـلا ډول تعريـف شـوی دی. د اوبـو ښـه مديريـت دا دی چـې حکومـت بايـد تـر ټولـو مخکـې د افغانسـتان د اوبـو بندونـه جـوړ کـړي او گټـې اخيسـتو تـه يـې وسـپاري، ترڅـو د هېـواد وگـړي لـه دې ناوريـن څخـه خلاصـون ومومـي لکـه: د هـرات سـلما بنـد، د هلمنـد کجکـي بنـد، د فـراه بخش اباد بند، د کابـل شـاه تـوت بند، شـاه و عـروس بنـد... او داسـې نـور. دا چـې زمـوږ پـه هېـواد کـې د بندونـو د جوړولـو څومـره اړتيـاوې او وړتيـاوې دي او دغـه بندونـه زمـوږ پـر اقتصـاد څومـره اغېـزه لـري، دا يـوه بېلـه خـبره ده. بلـه تـر ټولـو لويـه ننگونـه پـه هېـواد کـې امنيتـي وضعيـت دی، چـې لـه املـه يـې پانگـوال د افغانسـتان د اوبـو پـه سـکتور پـه تېـره بيـا د اوبـو بندونـو پـه جوړولـو کـې زړه نـه ښـه کـوي. د تېـرو ۱۵ کلونـو تجربـو هـم دا ښـودلې چـې د اوبـو مهارولـو، دخولـو تويولـو ترڅنگ د افغانانـو وينـه هـم تويـې کـړې او د بندونـو جوړېـدل هـم بالاخـره د وينـې تويېدو لـه املـه شـوني شـوي دي. د دې سـتونزې مخنيـوي تـه د حکومـت جـدي پاملرنـې او داخـلي او خارجـي مرسـتو تـه اړتيـا ده، خـو د دې ترڅنگـه زړه سـوانده چارواکـي او ښـه مـشري ورتـه پـه کار دي.

## د ټاکنو کمېسيون د نوې ژمنې پر بنسټ؛

# د ولسمشريزو ټاکنو مهالوېش تر راتلونکو دوو يا دريو ورځو پورې اعلانېږي




د ټاکنـو خپلـواک کمېسـيون وايـي، تـر راتلونکـو دوو يـا دريـو ورځـو بـه د ولسـمشريزو ټاکنـو مهالوېـش اعـلان کـړي.

د ټاکنـو د خپلـواک کمېسـيون رييـس عبدالبديـع صياد پرون د يـوه مطبوعاتي کنفرانـس پـر مهـال وويـل چـې د يـاد مهالوېـش د اعلانولـو لپـاره کافي وخت لـري او تخنيکـي ډلې يـې کار کوي چې ډېـر ژر د ولسـمشريزو ټاکنـو مهالوېش وروسـتی کـړي.

نومـوړي زياتـه کـړه چـې د کمېسـيون تخنيکـي ټيمونـه پـه دې اړه لـه نړيوالـو ډونرانـو سره کار کـوي او تـر راتلونکـو دوو يـا دريـو ورځـو بـه پـه مفصـل ډول له ټولـو جزياتـو سره د ولسـمشريزو ټاکنـو مهالوېـش اعـلان کـړي.

صيـاد وويـل چـې د قانـون لـه مخـې د ولسـمشريزو ټاکنـو مهالوېـش بايـد لـه ټاکنـو ۱۲۰ ورځـې مخکـې اعـلان شي چـې د ده پـه خـبره، دې مـودې تـه لا نـږدې يـوه نيمـه مياشـت وخـت پاتـې دی.

د ټاکنـو خپلـواک کمېسـيون سرچينـو وړانـدې ويـلي وو چـې پـرون بـه د ولسـمشريزو ټاکنـو مهالوېـش اعـلان کـړي، خـو د کمېسـيون رييـس وايـي، هغـه تخنيکـي ډلـه چـې د مهالوېش د جوړولـو مسـووليت ورسـپارل شـوی و، د رايـو پـه بيا شمېرنه کې دومره بوخته ده چـې د مهالوېـش د وروسـتي کولـو لپـاره يـې وخـت ونـه مونـد.

صيـاد وويـل چـې دوی پـه راتلونکـي کال کـې د ولسـمشرۍ، ولايتـي او ولسـواليو شـوراگانو او دغـه راز پـه غـزني کـې د ولـسي جرگـې ټاکنـې پـه مخ کـې لـري چـې پـه وينـا يـې بايـد ټولـې پـر خپـل وخـت تـرسره شي.

ټاکل شـوې وه چـې د ولسـواليو شوراگانو او غـزني ټاکنـې د ولـسي جرگـې لـه ټاکنـو سره يـو ځـای تـرسره شـوې وای، خـو د ولسـواليو شـوراگانو ټاکنـې له دې کبلـه چـې د خلکـو لېوالتيـا ورتـه کمه وه او د غـزني هغـه بيـا لـه دې کبلـه چـې خلکـو يـې د ځرنگـوالي پـرسر اختـلاف درلـود، وځنډېـدې.

د ټاکنـو د خپلـواک کمېسـيون رييـس وويـل چـې د ولسـواليو شـوراگانو د ټاکنو پـر وړانـدې پخـواني خنډونـه لا هـم پـر ځـای دی چـې په وينـا يې بايـد له مخې پورتـه شي.

د ولسـواليو شـوراگانو د ټاکنـو پـر وړانـدې تـر ټولـو جـدي سـتونزه دا ده چـې پـه گڼـو ولسـواليو کـې خلـک پـه دې ټاکنـو کـې نومانـدی تـه زړه نـه ښـه کـوي. حکومـت وړانـدې ويـلي وو چـې د ولسـواليو شـوراگانو غـړو تـه امتيـاز نـه ورکـوي، لـه همـدې کبلـه د هېـواد پـه مختلفـو ولسـواليو کـې خلکـو دې شـوراگانو تـه لـه نومانـدۍ ډډه وکـړه.

د ټاکنـو د خپلـواک کمېسـيون رييـس د غـزني د ټاکنـو پـه تـړاو هـم وويـل چـې حکومـت يـې د لانجـې د هـوارې لپـاره د ولسـمشر د دويـم مرسـتيال، د اجرايـه رييـس د لومـړي مرسـتيال او د سـيمه ييـزو ارگانونـو د خپلواکـې اداري د رييـس پـه گډون يو پـلاوی ټاکلی دی.

صيـاد زياتـه کـړه چـې کـه يـاد پـلاوی د غـزني د ټاکنـو لانجـه هـواره کـړي، نـو ټاکنـې بـه يـې د ولسـمشرۍ لـه ټاکنـو سره يـو ځـای تـرسره شي.

د غـزني ټاکنـې د ټاکنـو د ځرنگـوالي پـر سر د دغه ولايت د اوسـېدونکو د اختلاف لـه کبلـه ځنډېدلـې او کمېسـيون يـې لا هـم د تـرسره کولـو پـه تـړاو پـه ډاډه زړه څـه نـه شي ويلي.

# امريکا په يمن کې د ائتلاف جنگېدونکو الوتکو ته تر دې وروسته سون توکي نه ورکوي



دوو امريکايـي چارواکـو ويـلي، هېـواد يـې د سـعودي عربسـتان پـه مشرۍ پـه يمن کـې د ائتـلاف پـر جنگـي الوتکـو سـون توکـي دروي.

دغـو دوو امريکايـي سرچينـو رويټـرز تـه د نـوم نـه ښـودلو پـه شرط ويـلي، اوسـمهال پـر دې موضـوع لـه دواړو لـورو سره خـبرې روانـې دي.

بـل خـوا، د سـعودي پـه مشرۍ ائتـلاف ويـلي، د يمـن پـه جگـړه کـې يـې جنگـي الوتکـې د امريـکا سـون توکـو تـه اړتيـا نـه لـري.

د سعودي عربسـتان يوې خـبري سرچينې ويـلي: «سـعودي عربسـتان او د ائتلاف نورو هېوادونـو پـه وروسـتيو کـې د خپلـو الوتکو د سـون توکو کچه لـوړه کـړې ده».

وړانـدې نـاروې ويـلي وو چـې سـعودي عربسـتان تـه بـه د هـر ډول دفاعـي توکـو صـادرول ودروي.

د نـاروې د بهرنيو چارو وزيرې اينا اريکسـن سـوريډ ويـلي وو: «پـه اوسـني وضعيـت کـې مـو هوکـړه وکـړه چـې د سـعودي د پوځـي او دفاعـي موخـو د ملاتـړ پـه پـار خپـل توکـي ودروو».

دا گام پـه داسـې حـال کـې دی چـې پـه اسـتانبول کـې د سـعودي کونسـلگرۍ د ننـه د خبريـال جمـال خاشـقجي تـر وژل کېـدو وروسـته پـر ريـاض د نړيوالـو غوسـه ډېـره شـوې ده.

نـاروې وايـي، اوسـلو تېـر کال پـر ريـاض د ۴،۸۶ ميليونـو ډالـرو پـه ارزښـت دفاعـي توکـي پلـورلي دي.

د بـشري حقونـو فعـالان وايـي، د سـعودي عربسـتان پـه مـشرۍ ائتلاف ښـايي په يمن کـې جنگـي جرمونـه کـړي وي.

پـه يمـن کـې د روانـې جگـړې لـه کبلـه شـاوخوا ۱۴ ميليونـه وگـړي د لـوږې لـه ناوريـن سره مخامـخ دي.

تېـره مياشـت، جرمنـي وويـل سـعودي عربسـتان تـه بـه د جرمنـي وسـلو صـادرول ودروي.

د يمن روانـه جگـړه کـې لـږ تـر لـږه لـس زره کسـان وژل شـوي او ميليونونـه نـور بـې ځايـه شـوي دي.

دې جگـړې لـه ۲۰۱۵ کال راهيسـې پـه يمـن کـې پراخـه ويجـاړې هـم رامنـځ تـه کـړې ده.

جگـړه هغـه مهـال پيـل شـوه چـې حـوثي ياغيانـو د يمـن ډېـری لوېديځـې سـيمې ونيولـې او ولسـمشر عبد ربـه منصور هادي لـه هېـواده بهـر تښـتېدو تـه اړايسـتل شـو.

## د کتـــاب خبـــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانگړنې

### ۲۱ هغه ځانگړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دولسمه ځانگړنه
**کرکټر:**



**دې ته تم شئ**
که اډیسن دومره مثبت فکره نه وای کړی، د مخترع په توگه یې دومره بریا نشوه موندلی. که د هغه په ډېرو خبرو کې ورسره موافق یئ، ورته ځیر شئ، وبه گورئ چې د ژوند په ډېرو برخو کې یې چلند او لیدلوری مثبت و. که غواړئ چې رهبر شئ، نو مثبت نظر ته اړتیا ده. دا نه یوازې ستاسې د رضایت کچه مشخص کوي، بلکې له نورو سره ستاسې په چلند هم اغېزه کوي. که غواړئ چې د مثبت فکر او لیدلوري په اړه لا ډېر پوه شئ، نو پر لاندې موضوعاتو فکر وکړئ.

**۱) تاسې لیدلوری ټاکلی شئ**
عادي خلک دې ته ناست وي چې بل څوک راشي ده ته مفکوره یا انگېزه ورکړي. ویکتور فرانکل اروایوه وایي: (د انسان په توگه زمونږ نهایي خپلواکي دا ده چې هره شېبه، په هرو شرایطو کې خپل لیدلوری او ذهنیت بدلولی شو. دا سړی د نازي جرمنیانو له زندانه ژوندی راووت، د خپل فکر او تصور واک یې بل چا ته ور نکړ. هغه انسان و، د ژوند په دومره سختو شرایطو کې، که هغه خپل لیدلوری او ذهنیت بدلولی شوای، نو تاسې یې هم بدلولی شئ.

**۲) لیدلوری مو اعمال ټاکي**
د کورني ژوند متخصص دنیس ویتلي وایي: (بریا په وړتیا او استعداد پورې اړه نه لري، بلکې په لیدلوري پورې اړه لري، همدا لیدلوری دی چې بریا پنځوي.) ستاسو لیدلوری او چلند ځکه مهم دی چې ستاسې چارې او کارونه له همدې ښکاري.

**۳) ستاسې خلک ستاسې د خوی هېنداره دي**
زه تل هغو خلکو ته حیران یم چې خپل خوی او چلند یې ضعیف وي، خو تمه یې دا وي چې خلک او کارکوونکي دې یې تکړه وي. خو دې ته پام کوئ، هغه مرغان یو ځای سره کېني چې بڼې یې یو شان وي. لکه یو دري ژبی شاعر چې وایي:

کبوتر با کبوتر باز با باز
کند هر جنس با همجنس پرواز

تاسې یوازې هغه خلک را جلبولی شئ چې ستاسې په څېر وي.
که تاسې د اډیسن ژوند ته وگورئ، د ده مثبت لیدلوري او شوق نه یوازې ده ته کار انرژي ورکوله، بلکې کارکوونکو ته یې هم دومره انگېزه ورکوله چې تر پایه به یې له کاره لاس نه اخیسته. اډیسن په لوی لاس هڅه کوله چې دغه روحیه په نورو خلکو کې هم پیدا کړي.

**٤) د خوی رغول یې تر پیدا کولو اسانه دي**
جوپین پیترسن په خپل کتاب (Earth and Altar)کې وایي: (زړه سوی او ترحم د انسان تر ټولو شریفانه احساسات دي، خو په ځان زړه سېځل تر ټولو ټیټ کار دی… دا یو ډول معلولیت یا ناروغي ده چې د ذلت احساس راوړي او له حقایقو زمونږ پام اړوي. دا یو ډول نشه یي توکی ده چې انسان روږدی کوي او له کار او ژونده یې باسي.)
که له وړاندې مثبت خوی او لیدلوری لرئ، نو زه مو هڅوم چې ویې ساتئ. بله دا چې که له ځان او نورو د ډېرو ښو شیانو تمه نه لرئ، نو نهیلي کېږئ مه. دا چې تاسې خپله ځانته لیدلوری ټاکلی شئ، نو پر دې باور ولرئ چې بدلولی یې هم شئ.

**پر دې فکر وکړئ**
د زړه مشهور جراح (مارتین لوید جونز) وایي: (د ژوند د ډېرو ستونزو لامل دا دی چې مونږ له ځان سره د خبرو پر ځای د ځان خبرې اورو.) تاسې څنگه غږونه اورئ؟ له خلکو سره چې مخ کېږئ دا وېره درسره وي چې اوس به مو سپکوي؟ له نویو تجربو سره چې مخ کېږئ آیا له دننه مو داسې غږ را پورته کېږي چې پکې ناکامېږئ؟ که منفي پیغام اورئ، نو دا باید زده کړئ چې ځان ته مثبت تلقین ورکړئ. د مثبت ذهنیت پیدا کولو تر ټولو ښه لاره دا ده چې خپل ذهن منفي خبرو ته مه سپارئ.

**د رسېدو لار**
**د خپل لیدلوري سمولو لپاره لاندې کارونه وکړئ:**

- **ځان په سمو موادو تغذیه کړئ.** که تراوسه پورې مو ځان له مثبتو انگېزو محروم ساتلی وي، نو ښه دا ده چې له دې وروسته خپله اروا په مثبتو موادو تغذیه کړئ. داسې کتابونه ولولئ چې مثبت لیدلوری او ذهنیت درکړي. هڅوونکي فلمونه وگورئ. څومره چې منفي ذهنه کېږي، هومره به یې بدلول درته سخت وي. خو که چېرې ځان له سمو او مثبتو موادو سره عادت کړئ، نو د مثبت ذهنه خلکو په ډله کې راتلی شئ.
- **هره ورځ یوه هدف ته ورسېږئ.** ځیني په منفي شیانو کې نښلي، ځکه فکر کوي چې گني پرمختگ نه کوي. که تاسې هم داسې فکر کوئ ځانته داسې اهداف وټاکئ چې هره ورځ یې ترلاسه کولای شئ. د وړو او مثبتو لاسته راوړنو ځرکونه درسره مرسته کوي چې د مثبت فکر ځرک ترلاسه کړئ.

**دوام لري...**

# د سمنگان د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي

سمنگان د بلخ او بغلان ترمنځ پروت ولایت دی. دغه ولایت د هېواد په شمالي برخه کې موقعیت لري. له تاجکستان او ازبکستان سره گډه پوله لري. د دغه ولایت سوېل ته د هندوکش د چنغور غاښ او د ایبک په برخه کې هواري زراعتي ځمکې او شمال لور ته د آبدان میر علم شگلنې دښتې، د آمو سیند شاوخوا ساحه پوښلې ده. سمنگان په مرکز او شپږو ولسوالیو کې د دیني مدرسو او خصوصي ښوونځیو په گډون، ۲۹۹ تعلیمي اداري لري. په دغو ښوونیزو ادارو کې۱۱۰ زره زده کوونکي په زده کړو بوخت دي چې له دې ډلې ۳۵سلنه یې نجونې دي. په یادو تعلیمي ادارو کې ۲۴۳۰ ښوونکي په تدریس بوخت دي. د دغه ولایت په هره ولسوالۍ کې یوه-یوه دیني مدرسه هم فعالیت کوي چې سلگونه ځوانان پکې په دیني زده کړو بوخت دي. پر دې سربېره په دغه ولایت کې د لوړو زده کړو یوه موسسه هم شته چې درې پوهنځي (کرنه، ښوونه او روزنه او اقتصاد) پکې فعال دي.

د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې د بنسټ ډبره په لومړي سر کې په ۱۳۸۷ کال کې د بلخ پوهنتون د فلیال په توگه د سمنگان ولایت په مرکز ایبک ښار کې د خلکو په غوښتنه او د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ کېښودل شوه. د لوړو زده کړو دې موسسې په لومړي کال په خپلو دریو پوهنځیو ( کرنه، ښوونه او روزنه او اقتصاد) کې ۲۰۰ محصلین جذب کړل.

د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې رییس پوهندوی محمد نظري وایي، دغه موسسه اوس هم یوازې درې پوهنځي لري چې په څوارلسو ډیپارټمنټونو کې یې محصلین لوړې زده کړې کوي.

پوهندوی نظري وایي، اوسمهال د لوړو زده کړو په دې موسسه کې لږ تر لږه ۳۰۰۰ محصلین د دریو پوهنځیو په بېلابېلو ډیپارټمنټونو کې پر زده کړو بوخت دي چې له دې ډلې ۲۵ سلنه یې نجونې دي. د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې څخه له پیله تر اوسه پورې ۱۹۰۰ کسان د لیسانس په کچه فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شوي دي.

ښاغلی نظري وایي، دوی له ټولو دریو پوهنځیو څخه تر اوسه پورې فارغان ورکړي چې له ځینو پوهنځیو څخه دوې دورې او له ځینو یې ان درې دورې فارغان ورکړي دي.

د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، دوی یو کوچنی کتابتون هم لري چې اوسمهال پکې لږ تر لږه ۳۰۰۰ ټوکه کتابونه موجود دي چې محصلین او استادان ترې وخت ناوخته گټه اخلي. د نظري په خبره، په کتابتون کې یې د شته دریو پوهنځیو اړوند کتابونه دي چې د سیمې ځوانانو، مدني فعالانو او قومي مشرانو یې په راټولولو کې ونډه اخیستې ده او دغه راز یې یوه برخه د لوړو زده کړو وزارت له خوا برابر شوي دي.



نوموړی وایي، پوهنځیو او ډیپارټمنټونو ته په کتو سره د سمنگانو د لوړو زده کړو د موسسې لپاره باید یو مجهز کتابتون جوړ شوی وایي، خو په خبره یې اوسنی کتابتون یې هم تر یوې کچې پورې د محصلینو او استادانو ستونزې حلولی شي.

د پوهندوی محمد نظري په خبره، څه موده مخکې یې د لوړو زده کړو د وزیر او یو شمېر نورو لوړپوړو چارواکو په گډون د سمنگانو د لوړو زده کړو موسسې اړوند د ښځینه محصلینو لپاره نوې جوړه شوې لیلیه پرانیسته. دی وایي، ډېر ژر به له ۲۰۰ تر ۳۰۰ پورې ښځینه محصلینو ته په دې ځانگړې لیله کې د اوسېدو زمینه برابره شي.

د نظري په خبره نوې جوړه شوې لیلیه چې یوازې د نجونو لپاره ده، د ژوند کولو ټول اړین توکي پکې په پام کې نیول شوي دي او له پوره امنیت څخه برخمنه ده. پوهندوی نظري وایي، دوی د لیلیې په شرایطو برابر گڼ شمېر نارینه محصلین هم لري، خو د ودانۍ او نورو امکاناتو د نشتون له کبله نه شي کولی د پوهنتون په چوکاټ کې ورته د لیلیې امکانات برابر کړي. دی وایي، دغو محصلینو ته په میاشتني ډول د لوړو زده کړو وزارت له خوا ټاکل شوې بدل اعاشه ورکول کېږي.

د سمنگان د لوړو زده کړو موسسه هر کال د ۱۰۰۰ تنو په شاوخوا کې د نویو محصلینو د جذب وړتیا لري. د دې موسسې رییس پوهندوی نظري وایي، روان کال هم ورته ۱۰۲۰ تنه نوي محصلین د لوړو زده کړو وزارت له خوا ور پېژندل شوي چې نوم لیکنه یې شوې ده او عملاً یې درسونه هم پیل شوي دي.

پوهندوی نظري وایي، د سمنگان د لوړو زده کړو موسسه ټولټال ٦۴ تنه کادري غړي لري چې له دې ډلې ٦ تنه یې ښځینه استادانې دي. دی وایي، اوولس تنه استادان یې په کور دننه او بهرنیو هېوادونو لکه؛ ایران، قزاقستان، هندوستان، ترکیه او نورو کې د دوکتورا او ماسترۍ پر زده کړو بوخت دي چې په دې ډله کې درې تنه یې د دوکتورا او پاتې نور یې د ماسترۍ په پروگرام کې شامل دي. ښاغلی نظري وایي، روان کال به هم د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې ۱۲ نور استادان په کور د ننه او ځینو بهرنیو هېوادونو کې د ماسترۍ په پروگرام کې شامل شي.

د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، دا چې د سمنگان ولایت لارې صعب العبوره دي چې پر وخت تر روغتون او نورو ولایتونو پورې ورته د ناروغانو رسول یو ستونزمن کار دی، نو د ولایت مقام د لوړو زده کړو وزارت له وزیر ښاغلي خواجه عمري څخه وغوښتل، تر څو د سمنگان ولایت د لوړو زده کړو د موسسې لپاره د عالي نرسنگ یو پوهنځی منظور کړي چې وکولی شي داسې نرسان او قابلې وروزي چې تر یوې کچې پورې په دغه ولایت کې د خلکو روغتیایي ستونزو ته رسېده گي وکړي. پوهندوی نظري وایي، د لوړو زده کړو له وزیر څخه یې دغه راز د دې موسسې لپاره د جیولوژي او معدن پوهنځي د منظورۍ غوښتنه ځکه وکړه چې د سمنگان ولایت د هېواد په کچه یو له هغه ولایتونو څخه دی چې گڼ کانونه لري، خو تر اوسه یې په قانوني ډول چا د را سپړلو هڅه نه ده کړې، ځکه دوی د ولایت په کچه د کانونو د برخې متخصصین نه لري. نوموړی وایي، د لوړو زده کړو وزیر ور سره منلې ده چې ډېر ژر به د سمنگان د لوړو زده کړو موسسې لپاره دغه دوه پوهنځي منظور او محصلین به ورته د لوړو زده کړو لپاره جذب شي.

پوهندوی نظري وایي، دوی د ولایت په کچه په ښوونځیو کې هېڅ داسې ښوونکی نه لري چې د پښتو ژبې مضامین تدریس کړي او نه هم تر اوسه پورې په موسسه کې د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ لري. نوموړی وایي، دا چې د دغه ولایت ډېری اوسېدونکي په ازبکي ژبه خبرې کوي، خو لا هم ورته په ښوونځي کې د ازبکي ژبې په اړه کوم مضمون نه تدریس کېږي. دی وایي، د لوړو زده کړو له وزیر څخه یې غوښتي چې د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې ورته د پښتو او ازبکي ادبیاتو ډیپارټمنټونه منظور کړي چې له نېکه مرغه د لوړو زده کړو وزیر هم ور سره منلې او د منظورۍ ژمنه یې ور سره کړې ده.

د سمنگان ولایت د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، د دغه ولایت جغرافیایي موقعیت او د خلکو اړتیاوو ته په کتو یې له لوړو زده کړو وزارت څخه غوښتنه دا ده چې په لومړي سر کې پوهنتون ته د دې موسسې په ارتقاع او له هغه وروسته د زېربناوو په جوړولو کې ور سره مرسته وکړي او ورته نوي پوهنځي منظور او اداري تشکیل یې زیات کړي. دغه راز د کتابتون مجهز کېدل د کیمیا، بیولوژي، فزیک ډیپارټمنټونو او کرنې پوهنځي لپاره د لابراتوارونو جوړول هغه څه دي چې اوسمهال ورته د سمنگان د لوړو زده کړو موسسه تر بل هر څه ډېره اړتیا لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۶۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ۵۶۹ |
| ₹ | ۱۰۳۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۷,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:00 |
| کابل - دوبی | 16:15 |
| کابل - جده | 17:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

روغتیا

# استرس و سوزش معده؛ آیا استرس باعث سوزش معده می‌شود؟

**ترجمه: فایز کریمی**

به‌نظر می‌آید سلامت دستگاه هضمی ما به‌شدت با احساسات‌مان مرتبط است؛ برای مثال، ممکن است قبل از یک سخنرانی کاری دل‌آشوبه پیدا کنیم یا زمانی که شرایط سختی داریم و تحت فشار هستیم، دچار معده درد عصبی شویم. رفلکس معده یا رفلکس اسیدی هم از این قاعده مستثنا نیست و با توجه به شرایط بد روحی می‌تواند وخیم‌تر شود؛ علائم سوزش معده هم می‌تواند همراه با حجم کاری شما تشدید شوند. استرس ممکن است به دستگاه هضمی برخی افرادی که مشکل رفلکس معده دارند آسیب بزند. در این مقاله به رابطه‌ی استرس و سوزش معده، بررسی صحت تأثیر استرس بر سورش معده و راهکارهای کاهش استرس خواهیم پرداخت.

**آیا استرس باعث سوزش معده می‌شود؟**

حتی اگر محرک‌های رفلکس، مثل اضافه وزن، سیگرت کشیدن یا عوامل دیگر باعث ایجاد سوزش معده در شما شده‌اند، استرس باعث می‌شود، علائم رفلکس اسیدی را بیشتر متوجه شوید. اما آیا رابطه‌ای میان استرس و سوزش معده وجود دارد؟

داکتر میشل کاپل (Mitchell Cappell) متخصص جهانی جهاز هضمی، می‌گوید: «استرس بر بسیاری از عملکردهای گوارشی تأثیر می‌گذارد و ما می‌دانیم بیمارانی که تحت فشارهای روانی زیاد هستند، علائم رفلکس شدیدتری را حس می‌کنند، اما لزوما ناراحتی رفلکس‌شان آن‌قدر شدید و وخیم نیست.» همچنین اضافه می‌کند: «ما امروزه در دنیای پراسترسی زندگی می‌کنیم و ناراحتی سوزش معده، به‌شدت رایج است».

در بررسی‌های انجام‌شده، کسانی که از رفلکس اسیدی رنج می‌برند، غالبا استرس را محرک این ناراحتی می‌دانستند. مشکل اینجاست که مطالعات و بررسی‌ها نتوانستند بین استرس و میزان اسید بازگشتی به مری که از علل اصلی ناراحتی سوزش معده است ارتباطی بیابند. احتمالا یکی از علت‌های این مغایرت شکاک شدن یا حساس شدن افراد باشد؛ به این معنی که افراد پراسترس بیشتر از زمانی که آرامش دارند، به علائم ناراحتی‌های بدن‌شان حساس می‌شوند و توجه می‌کنند.

سال ۲۰۰۵ در بررسی‌ای منتشرشده در مجله‌ی تحقیقات روان‌شناختی برای بررسی رابطه‌ی استرس و سوزش معده، محققان سطح اسید معده ۴۰ بیمار را که سوزش معده و رفلکس اسیدی شدید داشتند، اندازه‌گیری کردند. در طول این مدت، به نیمی از شرکت‌کنندگان گفتند تا سخنرانی‌ای ۵ دقیقه‌ای آماده کنند و با این کار استرس آنها را زیاد کردند. سطح اسید معده در هر دو گروه تقریبا یکسان بود؛ با این حال، بیمارانی که این استرس به آنان داده شده بود، علائم رفلکس اسیدی وخیم‌تری را گزارش دادند، که این نشان می‌داد حساسیت آنها نسبت به علائم بدن‌شان افزایش یافته است.

یافته‌هایی از این قبیل، لزوما به این معنی نیستند که رفلکس اصلا به استرس مربوط نمی‌شود یا تلقین است. برخی از کارشناسان معتقدند استرس ممکن است بخش‌هایی از مغز را تحریک کند که گیرنده‌های درد در مری را فعال‌تر می‌کنند. بنابراین ممکن است سطح اسید معده‌ی افراد پراسترس، در مقایسه با افراد آرام بیشتر نباشد، اما هر قطره اسید ممکن است درد بیشتری برایشان ایجاد کند.

به‌علاوه، استرس می‌تواند بر سطح پروستاگلاندین‌ها تأثیر بگذارد و موجب کاهش آنها شود. پروستاگلاندین‌ها یکی از مهم‌ترین واسطه‌های کیمیایی بدن هستند که روی گیرنده‌های مختلف سلولی تأثیر می‌گذارند و می‌توانند جداره‌ی معده را پوشش دهند و در برابر اسید از آن محافظت کنند.

داکتر جوناتان شریبر (Jonathan Schreiber)، متخصص بیماری‌های هضمی نیز می‌گوید: «زمانی که استرس دارید، سطح پروستاگلاندین پایین می‌آید.» برخی داروها مثل داروهای ضدالتهابی ایبوبروفن و ناپروکسن، تولید این واسطه‌های کیمیایی را متوقف می‌کنند؛ به‌همین‌دلیل است که این دسته از داروها باعث ایجاد ناراحتی‌های معده مثل دلبدی و زخم معده می‌شوند.

نتیجه: داکتر شریبر می‌گوید: «رابطه‌ای قوی بین استرس و رفلکس اسیدی وجود دارد. مهم نیست که بدن و ذهن چگونه علائم رفلکس را حس می‌کنند، این علائم به‌اندازه‌ی خود ناراحتی واقعی هستند».

**کاهش استرس و راهکارهای آن**

کاهش استرس می‌تواند سوزش معده و دیگر بیماری های هضمی را بهبود بخشد، اما گفتن این مطلب راحت‌تر از عمل‌کردن به آن است. داکتر شریبر می‌گوید: «من همیشه به بیمارانم می‌گویم اگر می‌توانستم نسخه‌ای برای کاهش استرس بنویسم، اول برای خودم می‌نوشتم.»

هرچند، راهکارهایی برای تسکین استرس وجود دارد که ممکن است به کاهش سوزش معده کمک کند. برای مثال، ورزش برای کاهش استرس بسیار عالی است. داکتر شریبر می‌گوید: «منظور از ورزش این نیست که باید دوش دوامدار انجام دهیم! نیم ساعت پیاده‌روی روزانه هم کفایت می‌کند. شما باید روزانه زمانی کافی به توجه و مراقبت از خود اختصاص بدهید. این زمان می‌تواند صرف کتاب خواندن، پیاده‌روی یا انجام حرکت یوگا شود. کارهای خلاقانه‌ای نظیر نوشتن، کار هنری یا موسیقی هم می‌توانند نقش بسزایی در کاهش استرس داشته باشند.»

داکتر کاپل می‌گوید: «راهکارها برای افراد مختلف، متفاوت‌اند. هر کاری که برای شما آرامش‌بخش است انجام دهید؛ گاهی حتی کار ساده‌ای مثل گوش دادن به یک موسیقی هم کارگشاست.»

او اضافه می‌کند: «صحبت کردن درباره‌ی مشکلات‌تان با یک مشاور یا روان‌درمان یا حتی دوستی خوب هم می‌تواند استرس را کاهش بدهد.»

تفریحات سالم برای کاهش استرس بسیار مؤثرند. اینکه در مواقع سختی و فشار به چیزهای ناسالم مثل سیگرت کشیدن یا مصرف بیش‌ازحد کافئین روی بیاوریم، کار آسانی است. مضاف‌بر اینکه سیگریت کشیدن و کافئین جزو موادی هستند که داکتران آنها را عامل افزایش سوزش معده می‌دانند. سیگریت کشیدن و مصرف کافئین ممکن است عضله تنگ‌کننده پایین مری را ریلکس کنند. این عضله، مری را به معده متصل می‌کند و موجب تسهیل رسیدن اسید به لوله‌های غذایی می‌شود.

اگر استرس دارید، خیلی مراقب باشید تا از مصرف محرک‌های شناخته‌شده‌ای مثل چاکلیت، مرکبات و آب‌میوه‌هایشان، بادنجان رومی و ساس ان، غذاهای چرب و تند، فراورده‌های لبنی پرچرب و نعناع پرهیز کنید. از کارهای دیگری که می‌توان انجام داد این است که تا جای ممکن هنگام صرف غذا آرامش داشته باشید. کم کردن حجم وعده‌های غذایی نیز به بهبود این ناراحتی کمک می‌کند. بلافاصله بعد از صرف غذا ننشینید و هنگام خواب بالش‌تان را طوری تنظیم کنید که سرتان بالا باشد. اگر این راهکارها مفید نبودند نگران نباشید، زیرا درمان‌های دارویی زیادی نیز برای بهبود سوزش معده وجود دارند.

# د سولې عالي شورا: افغانستان او سیمې ته د خلیلزاد دویم سفر به مو سولې ته لا نږدې کړي

د سولې عالي شورا وايي، هیله لري چې افغانستان او د سیمې هېوادونو ته د زلمي خلیلزاد دویم سفر د سولې خبرو ته مزل لا لنډ کړي.

د سولې د عالي شورا اجرائیوي غړي او سلاکار محمد اسماعیل قاسمیار وايي، اوس نو د دې وخت دی چې له عمومیاتو تېر او د سولې خبرې اترې عملاً پیل شي.

قاسمیار افغانستان او د سیمې هېوادونو ته د خلیلزاد د دویم سفر په اړه وايي، دا کار سولې ته لېوالتیا ښیي او باید په نتیجه کې یې د سولې د خبرو خرنګوالي او پیل په اړه جزیات وروستي شي.

قاسمیار ازادي راډیو ته ویلي: «دا ځل چې ډاکټر صیب خلیلزاد خپل ماموریت بیا پیل کړی، زموږ تمه دا ده چې دا ځل باید عملي گامونه واخیستل شي، له عمومي خبرو تېر شو او باید په اصلي موضوع اتکا وکړو چې هغه د سولې خبرې اترې پیلول دي.»

دی وايي، د خلیلزاد له لومړي سفر وروسته د سولې بهیر په حرکت راغلی او د هېوادونو رول تر ډېره مشخص شوی دی.

دا هیلې او غوښتنې په داسې حال کې دي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، خلیلزاد به تر راتلونکو لسو ورځو د افغان حکومت له چارواکو او د نورو اړخونو له استازو سره وگوري، څو د افغانانو په مشرۍ د سولې د خبرو پرمختگ ته لاره هواره شي.

په خبرپاڼه کې د خلیلزاد له قوله ویل شوي، هیله لري چې افغان حکومت او طالبانو د باصلاحیته پلاویو د ټاکلو پر لور منظم گامونه اخیستي وي.

زلمي خلیلزاد د تېرې میزان میاشتې په نیمايي کې هم افغانستان، پاکستان، متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان او قطر ته سفرونه کړي وو.

خلیلزاد د هغه سفر په جریان کې په قطر کې له طالب استازو سره هم ولیدل، خو تر ډېره یي جزیات له رسنیو سره شریک نه شول.

ټاکل شوي چې ښاغلی خلیلزاد د تېر په څېر دا ځل هم له کابل وروسته، اسلام اباد، دوحې او متحده عربي اماراتو ته سفرونه وکړي.

# هند: دریځ مو نه دی بدل شوی، طالبان ښه او بد نه لري

هند وايي، د طالبانو پر وړاندې یې دریځ نه دی بدل شوی، بلکې دوی لا هم پر دې باور دي چې طالبانو کې ښه او بد نشته.

د هند د بهرنیو چارو وزارت وايي چې د مسکو په ناسته کې د هند او طالبانو ترمنځ هېڅ ډول مستقیمې خبرې نه دي شوې.

په مسکو کې د افغان سولې په تړاو د سولې فارمټ په نامه غونډه کې طالب استازي د سولې شورا له غړو سره پر یوه مېز کښېناستل.

په دې ناسته کې د هند، ایران، چین او پاکستان استازو هم گډون درلود.

د هند د دولت مخالفو گوندونو په دې خبرو کې د هند گډون د طالبانو پر وړاندې د دغه هېواد دریځ د پام وړ بدلون بللی، خو د هند دولت ویلي، د دواړو اړخونو ترمنځ هېڅ ډول مستقیمې خبرې نه دي شوې.



د مسکو په ناسته کې په پاکستان او افغانستان کې د هند پخوانیو سفیرانو هم گډون درلود او د هند د بهرنیو چارو وزارت ویلي، په دې خبرو کې د هند گډون د نا رسمي چارواکو په حد کې پاتې شوی.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر عباس ستانکزي او پنځو نورو طالب استازو د حاجي دین محمد په مشرۍ د سولې د عالي شورا له دریو غړو سره مخامخ خبرې وکړې.

افغان دولت ویلي، په دې غونډه کې یې حضور رسمي نه و او د سولې شورا د یوه خپلواک بنسټ په توگه گډون پکې کړی و.

د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند ویلي، هېواد یې له طالبانو سره خبرې نه دي کړې او یوازې د روسیې په کوربتوب یې د افغانستان په اړه گډون کړی.

یادې سرچینې ویلي: «د افغانستان په اړه هر ډول خبرو کې د هند دریځ او گډون د دغه هېواد د منتخب دولت په ښه دی او د ښو او بدو طالبانو ترمنځ هېڅ توپیر نشته.»

د طالبانو له حضور پرته د مسکو په لومړۍ ناسته کې د افغان حکومت یو رسمي پلاوي هم گډون کړی و، خو دا ځل د افغان حکومت هېڅ کوم رسمي چارواکی دې ناستې ته نه و تللی.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!



0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



یکشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۰مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۱مه | دویم کال | ۲۸۲یمه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۲۰ | ۲۵ | ۱٦ | ۲۵ | ۲۱ |
| ۳ | ۷ | ۱۰ | ٦ | ۱۲ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۷ | لمر ختل ۰٦:۲۲ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۳:۱٤ | ماښام ۰٤:۵۲ | ماخوستن ۰٦:۱۸

## نړۍ



# امریکا په یمن کې د ائتلاف جنگېدونکو الوتکو ته تر دې وروسته سون توکي نه ورکوي

۳

## په سومالیا کې د موټر بم بریدونو د قربانیانو شمېر په لوړېدو دی

الشباب ترهگرې ډلې د سومالیا په موگادیشو کې پر یوه هوټل د خونړیو ترهگریزو بریدونو پړه منلې ده.
دغه بریدونه وړمه ورځ وشول چې د لومړنیو معلوماتو له مخې ترې د ۲۲ تنو د وژل کېدو خبر ورکړل شوی و.
بریدونه د دریو موټر بمونو په واسطه وشول. لومړی دوو موټر بمونو ته د هوټل په مخ کې چاودنه ورکړل شوه او ورپسې بیا د هوټل په غځېدلې لاره بله موټر بم چاودنه وشوه.
د سومالیا د جنایي څېړنو ادارې او د هوټل ساتونکو تازه رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې په بریدونو کې ۳۹ تنه وژل شوي او ۴۰ نور ټپیان دي.
سرچینې زیاته کړې چې ځینې کسان لا هم ورک دي او د مرگ ژوبلې شمېرې د ډېرېدو په حال کې دي.



رویټرز د عیني شاهدانو له قوله ویلي چې په ۲۳ موندل شویو جسدونو کې ۹ جسدونه د الشباب د جنگیالیو وو. دوی ویلي چې د پېښې له ځایه یې ۴۰ ټپیان هم روغتونونو ته رسولي، خو لا معلومه نه ده چې په ټپیانو کې هم د الشباب جنگیالي شته او که نه.
رویټرز وايي، هغه هوټل ته ورڅېرمه چې الشباب ډلې پرې بریدونه کړي، د سومالیا د جنایي تحقیقاتو د ادارې مرکزي دفتر هم موقعیت لري.
ویل کېږي چې دربیمه چاودنه له لومړیو دوو هغو د شلو دقیقو په ځنډ سره هغه مهال شوې چې خلک په سیمه کې د را ټولېدو په حال کې وو.
الشباب ډله چې په ۲۰۱۲ ز کال کې یې له القاعده سره تر یو ځای کېدو وروسته خپل حضور اعلان کړ، په سومالیا کې ورانکاري فعالیتونه کوي.
تېره میاشت هم د دې ډلې اړوندو جنگیالیو د سومالیا په سوېل لوېدیځ کې اووه تنه ووژل او تر لسو ډېر یې ټپیان کړل.

## د امریکا په مشرۍ ائتلاف په سوریه کې ۲٦ ملکیان وژلي دي



د سوریې یوه څارونکې ډله وايي، د دغه هېواد په ختیځ کې د امریکا په مشرۍ د ائتلاف په هوایي بریدونو کې ۲٦ کسان وژل شوي دي.
دغه ډله وايي، د سوریې په ختیځ کې د امریکا په مشرۍ د ائتلاف په هوایي بریدونو کې ۲٦ کسان وژل شوي چې ۱٤ تنه یې ماشومان دي.
د فرانسې خبري اژانس وژل شوي کسان ملکیان بللي دي.
د اژانس په حواله، په بریټانیا کې دېره د سوریې د بشري حقونو څارونکې ادارې ویلي، دغه بریدونه د دیرالزور د هیجن په هغو سیمو کې شوي چې د داعش حضور پکې احساسېږي.
د فرانسې د خبري اژانس په حواله، د سوریې د بشري حقونو د څار ادارې مشر رامي عبدالرحمن ویلي چې د پنجشنبې په ورځ هم د دیرالزور ولایت الشفا سیمې ته نږدې د ائتلاف په حملو کې اووه ملکیان وژل شوي وو.
د دیرالزور دغه دوه ښارگوټي د عراق سرحد ته نږدې د داعش په کنټرول کې وروستۍ پاتې سیمې دي.
اژانس لیکي چې د ائتلاف یوه ویاند د تازه هوایي بریدونو پر موضوع د تبصرې لپاره دوی ته ځواب نه دی ویلی.
خو دغه ائتلاف د کردانو او عربانو د هغه اتحاد ملاتړ کوي چې په دغو سیمو کې د افراطي وسله والو پرضد جنگېږي.
بل خوا د سورېې دولتي ځواکونو په حما ولایت کې وړمه ورځ له یاغي وسله والو سره جگړې وکړې.
د رویټرز اژانس په حواله، د سوریې د بشري حقونو د څار ادارې ویلي، دا په یوه کال کې د سوریې په شمال لوېدیځ کې تر ټولو درنه جگړه وه.

## ولسی جرگه:
## معرفی سه معاون در تکت های انتخاباتی ریاست جمهوری، خلاف قانون است



شماری از اعضای ولسی جرگه، معرفی بیشتر از دو تن را به حیث معاون در تکت های انتخاباتی، انتخابات ریاست جمهوری خلاف قانون میدانند و از کمیسیون انتخابات می خواهند که در این راستا مطابق قانون عمل کند .
ائتلاف ملی بزرگ افغانستان، به تاریخ ۱۷ عقرب اعلام کرد که به اسرع وقت نامزد مورد علاقه خود را برای انتخابات ریاست جمهوری معرفی خواهد کرد که درصورت پیروز شدن؛ افزون بر کرسی ریاست جمهوری، کرسی صدراعظمی را نیز ایجاد خواهد کرد.
این ائتلاف می گوید که در صورت پیروزی در انتخابات، به اساس یک فرمان، کرسی نخست وزیری را ایجاد خواهد کرد و فرمان، مشتمل بر این خواهد بود که رییس جمهور و صدراعظم هر دو سه، سه معاون خواهند داشت.
نادر خان کتوازی نماینده مردم پکتیکا در این جرگه، با اشاره به گفته های ائتلاف ملی بزرگ افغانستان گفت: «به اساس قانون اساسی، یک رئیس جمهور دو معاون دارد؛ اضافه از دو معاون در یک تکت انتخاباتی خلاف قانون است و باید کمیسیون کسانی را که در تکت های انتخاباتی شان اضافه از دو معاون داشته باشند، اجازه نامزد شدن را ندهد.»
آرین یون نماینده مردم ننگرهار در این جرگه همچنان گفت: «کسانی که می خواهند هشت تن در یک تکت انتخاباتی وارد میدان شوند، آنها تشنه قدرت هستند و نباید به آنها اجازه داده شود که خلاف قانون عمل کنند.»
درهمین حال، سید حفیظ الله هاشمی کمیشنر و سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات گفته است که کمیسیون انتخابات، آنعده از نامزدانی را برای شرکت در انتخابات ثبت خواهد کرد که مطابق قانون عمل کرده باشند.


هماهنگی کمک ها برای افغانها — CoAR 1989 — Coordination of Afghani Relief

### اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی ECW-SCI تصمیم دارد که درمرکز ولایت تخار، به تعداد 33 خیمه جهت تامین ساحه مصئون تدریسی برای اطفال متاثر شده از جنگ خریداری نماید. انعده شرکت های لوجستیکی که دارای تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af الی تاریخ (11-12-2018) به دست آورد؛ و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (11-12-2018) به آدرس ذیل بسپارند.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af